استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ارسالی: عبدالقهار مروت

سه شنبه ۱۳فبروری ۲۰۲٤

# لنډي څه ته ویل کیږي؟

لنډي هغه بڼه ده چې یوازې په پښتو ژبه کې عام ده. دا بڼه له دوو بندونو څخه جوړه ده، لومړی بند نهه توري لري او دوهم بند دیارلس توري لري. په عموم کې، **د لنډی وینا کونکي ندي پیژندل شوي. لنډیز د عامو خلکو څخه رامینځته شوي او د اصلي روح پر اساس لیکل شوي.** لنډي یوې ځانګړې موضوع ته نه دی وقف شوی. **لنډي د یو شخص د حکم یا ذوق له مخې نه لیکل کیږي.**

د اصلي وطنی لندیو څو مثالونه:

********

ما مارکونډۍ کرلې نه دي
جانان زمونږ کوڅې ته ولې نه راځینه

******

ګل مې په لاس کې مړاوی کیږي
پردی وطن دی زه یی چا ته ونیسمه

******

بېګا مې مړ په خوب لیدلی
سبا مې سروشونډو پترې نیولې وونه

******

ببلتانه غرونه په ژړا کړل
ځکه د ځمکې په مخ ډکې ولې ځینه

******

salamwatanam@gmail.com

دنیمو شپو سندرې خوند کا

ځوک به مین وي ځوک به ورک له ملکه وینه

******

په لویو غرو د خدای نظر دي

په سر یي واورې اوروي لمن ګلونه

******

په جنازه مې تلوار و کړئ

ناوخته کیږي د اشنا دیدن ته ځمه

******

چې جانان مري ما یې کفن کړې

چې په یوه لحد کې دواړه خاورې شونه

******

د توریالیو خویندي ژاړي

د سپو موزیانو خویندي سترګي توروینه

******

خوله مې د خولې د پاسه کیږده

ژبه مې پریږده چې ګیلې در ته کومه

******

د پسرلي غم ښادي یو دي

ګل په خندا دی آسمان اوښکې تویوینه

******

خلک اختر ته کالي مینځي

زما جامې د یار په بوي نه یې مینځمه

******

په قسمت ښکلي به نور نه شي

که وچې ونې زرغونې په اوښکو کړمه

******

salamwatanam@gmail.com

د یار دیدن یې په ما کم کړ
زه د بڼو له رپېدو مرور یمه
******
یو وارې بیا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونه
******
یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل دې پردیس کړم چې اوس ګالم احتیاجونه

هره بې انصافی، غیر عادلانه، غیر ادبی او غیراخلاقی متن،"لنډی" نه دی، بلکه سپکاوی د پښتو په بشکلی ملی ژبه او د پښتون کلتور دی.

په درناوي